

# Orientation to Ontario

## ستاسو د هویت ساتنه

دهویت غال هغه دچې ستاسو شخصي معلومات د دوکې لپاره کاروي. دوی ممکن ستاسو له بانکي حساب څخه پیسې غلا کړي، ستاسو په نوم کریډیټ کارتونه ترلاسه کړي، یا ستاسو په نوم خدمتونه ترلاسه کړي. د ځان ساتنې لپاره خپل شخصي معلومات خوندي وساتئ.

- تاسو باید خپله د ټولنیزې بیمې شمېره (SIN) خوندي کړئ. خپل اسناد له SIN سره په خوندي ځای کې ذخیره کړئ.
- تاسو باید خپل SIN یوازې خپل ګمارونکي، دولتي ادارو او مالي موسسو ته ورکړئ.
- نور مهم سندونه لکه پاسپورټ او د کډوالۍ کاغذونه په خوندي ځای کې وساتئ.
- د غیر معمولي یا ناآشنا فعالیت لیدو پر مهال خپل بانکي حساب او کریډیټ کارت په منظم ډول وګورئ.
- که تاسو خپله بټوه ورکه کړه، خپل کریډیټ کارتونه لغوه کړئ او سمدلاسه ستاسو د پیژندنې کارت د ورکېدو راپور ورکړئ.

که موټر لپاره جوازونه، د روغتیا کارت او نور، خپل کارتونه ورک کړئ، اونټاریو خدمتونو سره اړیکه ونیسئ.

- که تاسو فکر کوئ چې ستاسو د ټولنیزې بیمې شمېره غلا شوې ده د کاناډا خدمتونو سره اړیکه ونیسئ.

## سایبر امنیت

سایبر امنیت دا دی چې ستاسو شخصي آنلاین معلومات او هویت خوندي کوئ. سایبر امنیتي تکتیکونه ستاسو کمپیوټر او نورو وسایلو خوندي ساتل هم شامل دي.

- په خپل کمپیوټر، تلیفون او ټابلیټ کې قوي پاسوردونه وکاروئ.
- په خپل کمپیوټر کې د ویروس ضد سافټویر وکاروئ.
- خپل پاسوردونه یا د شخصي معلوماتو شمېره (PIN) له هیچا سره مه شریکوئ.
- د عامه کمپیوټرونو کارولو په وخت کې تل ویب‌پاڼې بندې کړئ.
- په بریښنالیک کې د نامعلومو کسانو له لورې په لېږل شویو لینکونو او ضمیمو کلیک مه کوئ.
- د خپلو ټولنیزو رسنیو حسابونو کې د شخصي محرمیت تنظیمات (privacy settings) وګورئ او شخصي معلومات مه شریکوئ.


## د درغلۍ څخه ډډه کول

دا د هغو شرکتونو لپاره غیرقانوني دي چې د تودوخې، یخولو او اوبو محصولات یا خدمتونه کور په کور یا دروازه په دروازه پلوري. د دې شرکتونو په مثالونو کې کوره، د اوبو ګرمی، هوای کنډیشنر او د نلونو پاکولو خدمتونه شامل دي. که تاسو د دې ډول محصولاتو یا خدمتونو لپاره تړون لاسلیک کړئ باطل او بې اعتباره ګڼل کیږي.

ځیني مجرمان ممکن د کاناډا د عوایدو اداري (CRA) یا پولیسو له ادرسه د ځان معرفي کولو له لارې خلکو ته د فریب او دوکې ورکولو هڅه وکړي. نه به د CRA چارواکي او نه به هم پولیس د پیسو غوښتلو لپاره تاسو ته زنګ یا ګواښونه وکړي. که تاسو یوه تلیفوني اړیکه ترلاسه کوئ چې له تاسو څخه د پیسو یا شخصي معلوماتو لېږلو غوښتنه کوي، تاسو له زنګ وهونکي څخه نور معلومات وغواړئ یا د دوی څارونکي (سوپروایزر) سره د خبرو کولو غوښتنه وکړئ. که



1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o




Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

زنګ وهونکی انکار وکړي، اړیکه پرې کړئ. که تاسو دا ډول تلیفوني اړیکې ترلاسه کوئ، پولیسو ته راپور ورکړئ.

## سرچینې

د اونټاریو د حکومت او مصرف کوونکو خدمتونو وزارت ontario.ca/page/consumer-protection-ontario

Better Business Bureau (BBB)
bbb.org/en/ca


د کاناډا د درغلیو ضد مرکز 1-888-495-8501

ناغوښتل شوي یا شکمن بریښنالیکونه spam@fightspam.gc.ca ته ولیږئ.


د هویت د غال په اړه د اونټاریو د حکومت په ویبپاڼه کې نور معلومات ترلاسه کړئ:

ontario.ca/page/how-avoid-or-recover-identity-theft

د سایبر امنیت پېښې یا د هویت غال ستاسو د محلي پولیسو څانګې ته راپور کړئ.







orientation to ontario
l'ontario c'est chez moi